PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت پنځم کال، لومړی ګڼه، پرله پسې ۲۰۰ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د وری ۷ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الاول ۱۲ مه د۲۰۱۳ م د مارچ ۲۷ مه

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ۶۵ - ۶۶ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت:
از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (ریاض الصالحین)

د انتخاباتو کمیسون د رای ور کولو بهیر یوه میاشت وځنډاوه

د انتخاباتو خپلواک کمیسون د دې ځنډ علت دا بللی چې, په نویو جوړو شویو کارتونو کې د پرمختللیو امنیتي ځانګړتیاوو ځای پرځای کېدو ته وخت ورکړای شي

کابل، رسانه ها:
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسون پرېکړه کړې چې د رای ورکوونکو د نوم لیکنې پر عملیاتي کار بیا کتنه وکړي او د راتلونکي لمریز کال د ولسمشرۍ د انتخاباتو د رای ورکوونکو نوم لیکنه تر ټاکل شوې مودې یوه میاشت وروسته پیل کړي.
په یاد کې وه چې د سږ کال د ثور له لومړۍ نیټې په ټول افغانستان کې د نوم لیکنې لړۍ پیل شي خو له نوې پرېکړې سره سم به دا کار د جوزا په پنځمه وشي.
د انتخاباتو خپلواک کمیسون د دې ځنډ علت دا بللی چې په نویو جوړو شویو کارتونو کې د پرمختللیو امنیتي ځانګړتیاوو ځای پرځای کېدو ته وخت ورکړای شي.
د ځینو کتونکو په باور هرڅومره چې د نوم لیکنې وخت ځنډېږي په

پاتې ۳ مخ

وزیر خارجهء امریکا بر شفافیت انتخابات در افغانستان تاکید کرد

مردم امریکا ازتلاشهای افغانها جهت پیشرفت و ترقی کشور شان حمایت میکند

کابل، رسانه ها:
در این نشست که در عقب در های بسته در مقر سفارت امریکا در کابل راه اندازی شد عمدتاً روی راه اندازی شفاف و عادلانه انتخابات آینده در افغانستان بحث شده است.
جان کری وزیر خارجه ایالات متحده در ابتدا ...

بقیه درصفحه ۴

هشت مهاجم و پنج پولیس در حملهء جلال آباد کشته شد

کابل، رسانه ها:
قوماندانی واکنش سریع پولیس دو شهر جلال آباد مرکز ننگرهار، هدف حملهٔ انتحاری دسته جمعی قرار گرفت که به اثر آن، هشت مهاجم انتحاری و پنج پولیس کشته شد و برخی افراد ملکی نیزمجروح گردیدند.
این حمله، حوالی ساعت ۴:۳۰صبح دیروز بتاریخ ۶ حمل صورت گرفت.
سمونوال حضرت حسین مشرقیوال سخنگوی قوماندانی امنیه ننگرهار، به آژانس خبری پژواک گفت که انفجار، در مقابل قوماندانی قطعه واکنش سریع رخ داد.
وی افزود که بعداً حمله مسلحانه آغاز گردید، که سه تن از مهاجمین دیگر نیز توسط

بقیه درصفحه ۴

په افغانستان کې تقریباً د دولسو کالو په اوږدو کې د سلو زرو څخه زیات افغانان وژل شوي

(اسدالله لودین) - دویم مخ

در وقت توزیع تذکره های الکترونیکی بی توجهی صورت نگیرد (مشرانو جرگه)

کابل، رسانه ها:
همزمان با اتخاذ آمادگی ها برای آغاز برنامه توزیع تذکره های الکترونیک از سوی وزارت داخله، افغانستان، مشرانو جرگه از موجودیت تقلب و استفاده جویی در این کار نگران است. یک بخشی از بحث های روز سه شنبه مشرانو جرگه به همین مساله اختصاص یافته بود.
برخی از سناتوان از وزارت داخله و سایر

بقیه درصفحه ۴

روسیه او هند د افغانستان پر حالاتو خبرې کوي

کابل، رسنۍ:
د روسیې ولسمشرولادیمرپوتین به د هند له صدراعظم من موهن سنګ په جنوبي افریقا کې د "بریکس" د ډلې په سرمشریزه کې د افغانستان په اړه خبرې وکړي.
د انترفاکس خبري اژانس د راپور له مخې دواړه مشران به د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا پرلاروچارو او د افغانستان د روانې وضعې په اړه خبرې وکړي.
په بریکس کې روسیه، هند، چین، برازیل او جنوبي افریقا شامل دي چې؛ اقتصاد یې په چټکۍ سره وده کوي او د نړیوال اقتصادي قدرت په توګه د راڅرګندیدو په حال کې دي.
د کریملن د مطبوعاتي دفتر یوه مسوول

پاتې ۳ مخ

د نسیم سالارزي خندوونکی منطق!

(محمد خلیل)

د حزب اسلامي یوه څانګه د غره له سره خوري او بله څانګه یې د ارګ له منځه دا پورتنۍ بې مسؤولیته او خارښتي الفاظ د نسیم سالارزي دهغې لیکنې د وروستي پاراګراف ټکي دي چې د تیرې دوشنبې په ورځ د محور په ورځپاڼه کې (د سولې په اړه د حزب اسلامي منطق) تر عنوان لاندې خپور شوي.
سالارزي پخپلې په دې لیکنه کې د ګیدړې په څېر د مکر او چالاکۍ په بشکاره کولو سره ددې خبرې د ثابتولو کوښښ کړی چې ګویا د حزب اسلامي دواړه څانګې له یو ډېر نه سرچینه اخلي په داسې حال کې چې په افغانستان کې د راجستر شوی حزب اسلامي او ...

پاتې دریم مخ

وزیر خارجهء امریکا بر شفافیت انتخابات در افغانستان تاکید کرد

بیش از ۲۸ هزار موتر نظامی و ۲۰ هزار کانتینر از تجهیزات اردوی امریکا باید تا سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج و به امریکا باز گردالده شوند

سی. ان. ان:
هزینه خروج تجهیزات لوجستیکی نظامی امریکا از افغانستان بالغ بر شش میلیارد دالر امریکایی می باشد.
شبکه خبری سی.ان.ان به استقرار بیش از ۲۸ هزار موتر نظامی و ۲۰ هزار کانتینر از تجهیزات مربوط به اردوی امریکا در افغانستان اشاره کرد که باید تا سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج و به امریکا باز گردانده شوند.
خروج موتر های نظامی نیاز مند جداسازی تسلحیات نظامی و تجهیزات مخابراتی نصب شده بر آنها است.
این کار در هشت نقطه افغانستان در حال تطبیق شدن است که هرماه ۱۵۰۰ موتر آماده

بقیه درصفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د علم له لارې خدای هم موندلې شوو او دنیا هم

د شنبې په ورځ جمهور رئیس ښاغلي کرزي له خوا د زنګ په ټنګولو سره عملاً نوی تعلیمي کال پیل شو. ښاغلي کرزی او د پوهنې وزیر ښاغلي فاروق وردګ چې پدې ورځ پخپلو ویناو کې د علم او پوهې د اهمیت په اړه څومره په زړه پورې معلومات وړاندې کړل هغه د هر علم دوست افغان د زړه آواز و.

په نني عصر کې چې د علم او پوهې کوم کرامات او ګټې د نړۍ خلکو لیدلي دي د افغانستان وګړي هم د زړه له کومې غواړي چې خپل اولادونه هم د نورې نړۍ د پوهانو په څېر د علم او پوهې په ګاڼه سنبال کړي او پخپل ژوند کې د علم هغه ثمر او ګټه ترلاسه کړي چې د نورې نړۍ ولسونو ترلاسه کړي دي.

په انساني ټولنه کې علم او پوهه هغه یواځینې ضرورت دی چې ځای یې بل هېڅ څه نشي ډکولې ، که د یو هېواد خاوره څومره له قیمتي ذخائرو نه ډکه او زرخیزه وي خو چې اوسېدونکی یې د علم او پوهې له نعمته محروم وي له خپلو قیمتي ذخائرو نه هېڅ ګټه نشي پورته کولې ، همدا د علم او پوهې برکت دی چې طلا ، اوسپنه ، نقره ، تیل ، ګیس ، الماس ، یورانیم او لسګونو نورې ګټورې ذخیرې له زمکې څخه راوباسي او د ګټې د اوچتولو لپاره مارکیټ ته یې وړاندې کوي.

موږ پخپلو غږېدلیو سترګو وینو چې د کومو هېوادو وګړو د علم او پوهې په ډګر کې پرمختګ کړی هغوی د ژوند په ټولو ډګرونو کې ډېرې آسانتیاوې او سهولتونه ترلاسه کړي دي، د اقتصاد په ډګر کې هم پرمختګ کړی او د زراعت ، صنعت ، ټیکنالوژي او روغتیا په ډګر کې هم ، د میاشتو میاشتو سفر په څو ساعتونو ، او د کلونو کلونو کارونه په څو ورځو کې ترسره کوي.

د حساب ماشین او کمپیوټر چې په بانکي سیستم ، او نورو پېچلو دفتري کارونو کې کوم سهولتونه رامنځته کړي او ملیاردونو پیسو حساب په څو ساعتونو کې کوي هېڅ سالم عقل لرونکی انسان ددې له اهمیت نه سترګې نشي پټولې ، لنډه یې دا چې د علم او پوهې نتیجه او برکتونه د روښانه لمر په څېر د هر چا په وړاندې دي او محسوسوي یې ، خو دا هر څه پخپله نه دي پیدا شوي بلکې ددې په جوړولو کې د علم او پوهې لوی لاس دی ، هر چا چې د علم او پوهې قدر کړې او ددې د ترلاسه کولو لپاره یې زمینه برابره کړې هغوی فضا ، سمندر او وچه تسخیر کړې او د کائناتو له هرې برخې نه ګټه پورته کوي.

د علم د اهمیت په اړه خالق او مالک ذات پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې لارښوونه کړې او فرمایلي یې دي چې پوهان او ناپوهان سره هېڅکله نشي برابرېدلې ، او هغو خلکو ته چې پوه ورکول شوې هغوی پر نورو خلکو لویه مرتبه لري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې د علم ترلاسه کول پر هر مسلمان فرض دی.

د الله جل جلاله په مبارک دین کې د دیني علومو د زده کړو ترڅنګ د نورو ګټورو او عام المنفعه علومو زده کول هم پر مسلمانانو فرض ګرځول شوي دي لکه چې د محمد صلی الله علیه وسلم څرګند حدیث دی چې: د فرض لمونځ له ادا کولو وروسته د حلال کسب له لارې رزق ترلاسه کول فرض دی.

د انسانیت ستر لارښود د محمد صلی الله علیه وسلم له دې واضح حدیث نه دا ترلاسه کېږي چې دهغو حلالو او عام المنفعه کارونو زده کول چې انساني ټولنې ته ګټه رسوي فرض او ضروري دي ، هر څوک چې ددغو علومو د زده کولو څخه ډډه کوي هغوی اصلاً د خپل پالونکي ذات او د ستر لارښود محمد صلی الله علیه وسلم له ارشاداتو څخه سرغړونه کوي، محمد صلی الله علیه وسلم خپل مسلمان امت ته دا هم فرمایلي دي چې په تاسو کې هغه څوک ډېر غوره دی چې خلکو ته ګټه رسوي ، په دې نړۍ کې چې څومره د ګټې مشینونه ، او نور سامان آلات تر سترګو کېږي دا ټول د علم او زده کړې محصول دي ، چا چې دغه د ګټې علوم ترلاسه کړي هغومره د ژوند په مختلفو ډګرونو کې په زړه پورې پرمختګونه کړي دي. که څېرته موږ د افغانستان ولس د یو مسلمان امت په توګه د ژوند په ګنو ډګرونو کې پخپلو پښو ودرېدل ، او د نورو له ګدایي او محتاجي څخه خلاصون ترلاسه کول غواړو نو د افغانستان هر مسلمان ته پکار دي چې د علم او پوهې د ترلاسه کولو په خاطر خپل ماشومان نه یوازې دا چې ښوونځیو ته واستوي بلکې د ښوونځیو د جوړولو او ساتلو ته یې هم هر ډول مرستې ته چمتو واوسي.

که موږ خپل ماشومان چې زموږ دهېواد راتلونکي معماران دي مدرسو او ښوونځیو ته ونه لېږو نو نه یواځې دا چې له خپلو اولادو سره به مو لویه جفا کړې وي بلکې د خپل خدای او رسول له ارشاداتو څخه به مو هم سرغړونه کړې وي ، ددې کار پایلې به نه یواځې دا چې زموږ لپاره تباه کوونکي او له تاوانه ډک وي لکه څنګه چې اوس هم ورسره مخامخ یو زموږ راتلونکی نسل به هم زموږ په څېر د محتاجۍ او ګدایي په مردار ډنډ کې غرق وي نه به په ګېډه ماړه وي او نه به هم روغتیایي او رواني حالت یې ښه وي، د یو سرلوړې ، هوسا او آزاد ژوند د تېرولو ارمان به کوي خو یو ارمان به یې هم نه پوره کېږي ځکه چې د ارمانونو د پوره کېدو یواځینی اصل د دیني علومو ترڅنګ د عصري او عام المنفعه علومو زده کول دي او دا هله ترلاسه کیدلی شي چې خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوو او دزده کړې په ډګر کې دهېڅ ډول غفلت او ناغیرۍ مرتکب نه شوو، وخت ډېر په تیزۍ سره زموږ له لاسه اوځي که د وخت قدر مو ونکړ او د علم او پوهې په ډګر کې مو څه ترلاسه نه کړ نو نه به مو خدای وبخښي او نه به زموږ اولادونه.

په افغانستان کې تقریباً د دولسو کالو په اوږدو کې د سلو زرو څخه زیات افغانان وژل شوي

اسدالله (لودین)

که څه هم د ناټو ځواکونه په لومړی سر کې پدې عنوان راغلل چې ګویا افغانستان بې ثباته او ناامنه دی او ددوی د راتګ سره به ضرور امن او ثبات راځي، ملي وحدت به تأمینېږي، سرحدات به په امن کې شي او په خپل ځان متکي یوه مرفه ټولنه به جوړېږي.

همغه وو چې د ناټو د قواؤو په لومړی ورځو کې خلک امیدواره او خوشبینه وو چې ګویا پورته اهداف به تحقق پیدا کړي خو بدبختانه د یولسو کالو په اوږدو کې هغه څه ترسره شول چې هېچا یې توقع نه کوله که هغه د ناامنۍ او بې ثباتۍ ورځ په ورځ زیاتېده ؤو که هغه د خارجي قواؤو موازي حکومت ؤو چې مستقل زندانونه، تحقیقي او کشفي اداری او اداري توقیف یې دربر نیسي. که هغه د ګاونډیو مداخلې وې او که هغه د داخلي مخالفتونو زیاتېده او د مقاومت د کچې لوړوالی ؤو چې په نتیجه کې زمونږ دیو لاک څخه زیات هېوادوال ووژل شول، ددې یو لاک په جمله کې تقریباً دیرش زره حکومتي چارواکي یعنی ملي پولیس، ملي اردو، ملي امنیت او نور د دولت ملکي پرسونل، د مکتب او مدرسې ملازم څخه نیولی تر قاضي، څارنوال، ملا امام، خطیب او معلم پورې.

د کرزي صاحب د حکومت د راتګ لومړنی دری کاله څه ناڅه امن ؤو چې بیا هم د ورځې اوسطاً د ۱ – ۳ کسانو پورې امنیتي پرسونل له منځه تللو له هغې وروسته ۳ – ۴ کلونو کې حداوسط ۴ – ۵ پورې امنیتي منسوبین وژل کېدل په وروستي مرحله کې چې تر نن پورې دوام لري د ورځې د ۱۰ – ۱۵ کسانو پورې امنیتي پرسونل د مسلحو مخالفینو له خوا وژل کېږي.

چې پدې ټولو مراحلو کې که حد اوسط لس نفره امنیتي تلفات د ورځې فرض کړو نو ویلی شو چې په تېره دوره کې له دیرش زرو څخه زیات دولتي پرسونل د مسلح دښمن له خوا له منځه تللی دی، پاتې نور د شپېتو زره په جمله کې عام ولسي بې ګناه وګړي دي چې یو تعداد یې د ناټو په ړندو بمباریو کې په شهات رسیدلی او لویه برخه یې د مسلحو مخالفینو په انفجاراتو، بمونو او انتحارونو کې له منځه تللي.

همداراز د مسلحو مخالفینو یوه برخه افغانان هم د جنګونو په جریان کې له منځه تللي. دا ؤ افغان مظلوم ولس ته د ناټو د امن او سولې راوستلو پیغام او دا ؤو د اسلامي نظام د راوستو لپاره د اسلامي امارت پیغام! نور قضاوت د ولس پورې اړه لري.

زه نه پوهېږم ددې انساني تلفاتو دنیاوي او اخروي مسؤولیت به دچا په غاړه وي؟ او دې ملت ته به څه ځواب ولرې؟ ځکه یوه ورځ به ددې جنایاتو پوښتنه ضرور کېږي.

دا خو انساني تلفات ؤو چې په نورو برخو کې څومره زیانونه رسیدلي هغه یو دقیق، مستقل، تحقیق او ارزونې ته ضرورت لري.

ددې ټولو انساني، مادي او معنوي خساراتو سره سره که بیا هم کوم سیاسي او یا نظامي جهت د یو مطلق العنان حکومت جوړولو غوښتنه لرې چې یواځې د یو سیاسي جهت پورې تعلق ولرې او نور ټکې شامل نه وي او یواځې دهمغه جهت د ارادو او سیاست تمثیل وکړې دا حکومت به ولس ته د منلو وړ نه وي او بقا به هم ونلري او په خلاف به یې مقاومت هم ترسره کېږي. چې بیا به هم جنګ دوام لرې او د افغانانو درد به مداوی نشي.

بهتره به وي د ټولو سیاسي اطرافو په اتفاق د خلکو د ارادې سره سم په یو ممثل اسلامي حکومت توافق وشي، خارجیانو ته د وتلو زمینه برابر شي او جنګونو ته د پای ټکی کېښودل شي او مونږ د خلکو د خوښې د یو باثبات اسلامي نظام شاهد واوسو. دداسې ورځې د لېدو په هیله.

د پسرلي نعمت دې په دعا ولمانځل شي او که په ډمتوب او نڅا ؟!

(عبیدالله صافي)

د انسان د ژوند د تأمین لپاره چې الله تعالی څومره نعمتونه پېرزو کړي دي هغه ټول د شکر وړ دي، د الله تعالی داسې نعمت نشته چې انسان ترېنه مستغني شي او یا هم دهغه په تاوان وي، شپه ده که ورځ، میاشت ده او که کال، پسرلی دی که اوړی، ژمې دی که منی دا ټول د الله تعالی لوی لوی نعمتونه دي هر یو خپلې خپلې ځانګړتیاوې او ګټې لري، که په ژمي کې واورې او بارانونه ونشي نو د زمکې په سر به د پسرلي ښکلا څوک ونه ویني، نه به غرونه شنه کېږي نه به دښتې او شاړې د رنګ رنګ ګلونو ځادرونه واغوندي، نه به د سیندونو مستي او رنې اوبه څوک ویني او نه به څوک د نارنجو، مڼو، زردالو، شفتالو، سنځل، انار او نورو بوټو ډول ډول خندېدونکي ګلونه.

نه به چمبیلي خپلې معطرې وږمې خورولې شي او نه به لاله، ګلاب، سنځل او غاټول ګلونه، د پسرلي موسم به راشي خو لمنه به یې له ښکلا نه تشه وي، دښتې بیدیا او غرونه به پخپل سپیره توب او بې رونقي ژاړي د زمکی موسکا او خندا به مړه وي، نه به سرسبز او سمسور فصلونه وي او نه به هم ګل لالا او د غاټول ګلونه، هر څه به خپلې رنګینې او طراوت له لاسه ورکړي وي، انسان او حیوانات به د لوږې او تندې له لاسه د مرګ کومې ته ورځي که څوک ژوندي هم پاتې شي نو له مړو نه به بدتر وي، نو ځکه انسان ته پکار دي چې د الله تعالی د ټولو نعمتونو شکریه ادا کړي. که د انسان په ژوند کې د پسرلي موسم راشي او کال نوی شي نو دهغه شکر دې هم ادا کوي او که وریسې د اوړي، منې او ژمې موسمونه راشي دهغوی شکر دی هم ادا کړي چې لوی الله په خیر او عافیت وربآندې خپل نعمتونه پیرزو کړل.

په دې کې هېڅ شک نشته چې په موسمونو کې د پسرلي موسم دټولو موسمونو سردار دی او ستر لارښود محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې پسرلی د جنت هغه ساه ده چې په کال کې یو ځل یې راوباسي او دهغې په وجه د زمکې په سر دجنت نظارې راټو کېږي، خوددې مطلب دانه دی چې موږ د دومره قیمتي نعمت شکریه په سندرو، ډمتوب، اسراف، شراب، بې حجابې او نورو شیطاني اعمالو په ترسره کولو پیل کړو، په دې ورځ د شرکي اعمالو مرتکب شو، په قبرونو او مزارونومیلې جوړې کړو، ګډاو نڅاوې وکړو، جوارې او نور لهو لعب کارونه ترسره کړو.

په حقیقت کې مونږ نه د خپل ځان واکداران یو او نه هم د موسمونو، نه د باران کولو توان لرو نه د فصلونو، ګلونو او ونو بوټو د زرغونولو، دا هر څه د الله په واک او اختیار کې دي، موږ په سلو کې سل د الله د لورینې او پیرزوینې محتاج یو، زموږ د ژوند هره ثانیه او هر ساعت د الله تعالی په فضل او مهربانۍ په طفیل دی، دا چې هغه جل جلاله موږ د ژوند په نوی پسرلي کې داخلوي نو ددې غوښتنه داده چې مونږ د الله تعالی ډېر زیات شکر ادا کړو، هغه ته په سجده پرې وځو، ثنا او حمد یې ووایو، خیراتونه او صدقې ورکړو، عذر او نیاز وکړو، د خپلو عملونو د ښه کولو ژمنه وکړو او د نوي کال له لومړۍ ورځې نه د خپلې بندګۍ عملي ښه ښکاره کړو، خو ډېر افسوس موږ د الله تعالی شکریه د شیطاني اعمالو په ترسره کولو ادا کوو، د حمد، ثنا او سجدو پر ځای سندرې وایو، د عجز انکسار او بندګۍ پرځای نڅاګانې کوو، د خیرات او صدقې پرځای فضول خرچې او اسراف کوو، د رقص او موسیقي محفلونه جوړوو، د قرآنکریم د تلاوت پرځای سندرې او غزلې زمزمه کوو، مسجدونو ته د تللو پرځای د موسیقي محفلونو ته مخه کوو، ددې پرځای چې کوم یتیم، یسیر، مسکین، نادار او کونډې سره د څو روپو مرسته وکړو او دهغوی اړتیاوې رفع کړو په سندر غاړو پیسې شیندو، تحفې او هدیې ورته اخلو، د شرابو بوتلونه او د چرسو پاکټونه اخلو، په باغونو او میلو کې بې ځای اسراف او بنداروته کوو.

کوم خلک چې د پسرلي د موسم له ښکلا نه خوند اخلي پر هغوی هېڅ اعتراض نشته څومره چې د الله تعالی له دې ښکلی موسم نه خوند اخیستلې شي وادېخلي هېڅوک یې نه منع کوي خو د پسرلي د موسم نه د خوند اخیستلو او په دې ورځ د نوروز جشن تر عنوان لاندې د شیطاني کړنو د ترسره کولو ترمنځ دې ضرور فرق وکړی شي، له دې موسم نه د خوند اخیستلو فطري حق هر چاته حاصل دی خو په الهي شریعت کې دا حق هېچاته نه دی ورکول شوی چې په دې ورځو کې دې اسراف ته مخه کړې شي، د موسیقي او شرابو محفلونه دې جوړ شي په مزارونو کې دې د شرک کارونه ترسره کړی شي، ګډاګانې او نڅاګانې دې وشي او د جوارې ادې دې ګرمې کړی شي، راځئ له الله نه د وېرېدو عهد وکړو او د خپلو شومو اهدافو او موخو په خاطر حق او باطل سره ګډ نه کړو هغه علماء او ددین خواخوږي بدنام نه کړو چې په دې ورځ موږ ته د شیطاني کړنو څخه د مخنیوې نصیحتونه کوي او خپل مسلمانو ورونو ته لارښوونه کوي چې ای مسلمانانو د الله تعالی دغه ښکلی نعمت د ګناهونو په ګند مه لړئ، ډول، ډول ګناهونو او رسم او رواج ته وده مه ورکوئ، د اسلام د دین رښتینو علماء تاسې کله هم د الله تعالی د ښکلی موسم پسرلي او د نوي کال د خوښیو نه نه منع کوي څومره چې ترېنه خوندونه اخیستلی شئ واخلئ خو یوې خبرې ته ضرور پام وکړئ چې شکر یواځې او یواځې د یو الله ادا کړئ، داسې هرګز مکوئ چې خوندونه خو د الله تعالی د نعمتونو واخلی مګر اطاعت او منته د شیطان وکړئ.

ما دهغه خبره لويه نه کړه

دوکتور عبدالوهاب

که له چا نه خطا وشي او يا ترې کومه ګناه سرو وهي، دا انسان دی؛ ځکه د ابن عباس د تفسير له مخې انسان ته ځکه انسان ويل شوي چې هغه وعده کړی وه او بيايې يې هېره کړې ده، خو که انسان بيا بيا خطا تکراره کړي او په ګناه کولو اصرار وکړي نو بيا ترې لوی شيطان جوړ شي، د حديث پر بنا هره ګناه د ګنهکار په زړه کې يو تور داغ جوړوي، او زړه د انسان د وجود يوه ډېره وړه ټوټه ده، کېدای شي په ډېر لږ وخت کې د ګناه کولو په وجه زړه يې له تورو داغونو ډک شي، چې بيا د زړه دغه تور والی د انسان مخ ته راووځي او د خلکو په سترګو کې بدرنګه ښکاره کړي.

څه موده وړاندې مې له يو ځوان سره پېژندګلوي وشوه، ديندار او لمونځ ګوزار سړی و، زما او دهغه پېژندنه په معنوياتو ولاړه وه او دنيا په کې کومه ونډه نه درلوده، څه موده وړاندې ما ددې ځوان پرمخ کريه بدلون وليد چې زه ورته حيران شوم، هغه بشاشت چې ما به دهغه په مخ کې ليدلو زما د سترګو ورک شو، ما ورته وويل: مريض خو نه يې؟ هغه وويل نه خو، دهغه ځواب زه ارام نه کړم، بيا بيا مې ترې وپوښتل خو روغ ځواب يې نه راکاوه، بله ورځ مې ورته په خندا کې د ټوکو په ډول وويل: هلکه په کومه ګناه خو به نه يې اخته شوی شکل دې ډېر خړ پړ ښکاري، ده وخندل، او زما خبره يې داسې واخيسته چې ګوندې زه پرې پوه شوي يم، بله ورځ يې راته خپل راز ښکاره کړ، ويې ويل: ياره دا انټرنټ خوله شيطان نه هم خطرناک دی، ما ورته وويل څنګه؟ ده وويل: يوه اونۍ وړاندې مې په نيټ کې يوه موضوع لوستله، د موضوع په اخير کې مې يو عکس وليد، له بده مرغه مې هغه کليک کړ، سم شيطان و، د عکسونو د بازار کلي يې راکړه، ټوله ورځ مې همدا کار وکړ، بله ورځ مې هم د کار شروع د همدې عکسونو په ليدو سره پيل کړه اونۍ تېره شوه او زه لکه د بايلونکي جوارګر ورځ تر بلې ګرميدم، شپه به مې هم په همدې سوچونو او فکرونو په ويښه تېروله، او کله کله به په سوچ کې خارجي سفرونو ته هم ولاړم او هلته به په هوټلونو کې ميشت شوم او ټول فاحش خيالونه به مې کول، د عکسونو په ننداره کې دومره غرق شوم چې لمونځونه به مې هم بې اودسه کول، ځکه چې د يو لمونځ پسې به د بل لمونځ لپاره اودس کول له لاسه نه کېده، اوس مې يو بل خطر احساس کړ او هغه دا چې دواړه سترګی مې بې ارادي رپېږي، ويره راته پيدا شوی چې خدای مه کړه د ګناه له امله په کوم بد مرض اخته شوی يم.

ما دهغه خبره پر ځای پر ښوده لويه مې نه کړه او نه مې ورته د زجر او تهديد خبرې وکړی، د مستقيم وعظ او نصيحت نه هم تېر شوم، خو ورته مې وويل: ما هم نن په انټرنيټ کې په عربي ژبه يوه له عبرت نه ډکه کيسه لوستلی، هغه وويل: څه دې لوستلي؟ ما ورته وويل: د وخت پاچا د خپلو وزيرانو څخه درې وزيران خپل دربار ته راوغوښتل او هر يو ته يې يو لوی جوال ورکړ او ورته يې وويل: لاړ شئ او په دې باغونو کې تازه، غوره او خوږې ميوې راټولی کړئ خو شرط دا دی چې نه به له چانه کمک غواړئ، نه به يې په بل چا ډکوئ او نه به هم څوک وکيل نيسئ بلکې هرڅه پخپله ترسره کړئ او ماته يې راوړئ، وزيران ولاړل، لومړی وزير خپل جوال د ډول ډول تازه، او خوږو ميوو څخه پډې موخه چې د پاچا رضايت په لاس راوړي ډک کړ، دوهم وزير په دې عقيده و چې؛ پاچا هېڅ کله دا جوال نه ګوري او نه ميوو ته ضرورت لري نو په بې پروايي سره يې جوال د ښو او خرابو ميوو ډک کړ، دريم وزير وويل: قسم دی که پاچا دا جوال وګوري کوم بل مقصد لري جوال يې د پاڼو او خزلو څخه ډک کړ، بله ورځ درېواړه وزيران د پاچا حضور ته د ورکړل شويو جوالونو سره ورغلل، پاچا امر وکړ، دا وزيران يوسئ او يو لرې محبس کې د خپلو راوړلو شيانو سره د درې مياشتو لپاره داسې بنديان کړئ چې يو بل ونه ګوري او هېڅ اوبه او خواړه ورته هم مه ورکوئ، هېڅوک مه پرېږدئ چې له هغوی سره وګوري درېواړه وزيران د خپلو ميوو سره په محبس کې بنديان شول، لومړی وزير به چې وږی شو نو د خپلو ميوو څخه به يې يو څه خوړل او خپل ژوند به يې پری ساته په همدې ډول درې مياشتې ژوندی پاتې شو، دوهم وزير هم ژوندی پاتې شو خو په ډېر زيات تکليف، مشقت او دوامداره سودا کې، کله به چې وږی شو نو په ميوو کې به يې ښې لټولي او يا به يې د خرابو ميوو څخه هغه روغ ځايونه خوړل، خو دريم وزير يوه اونۍ هم ژوندی پاتې نه شو ځکه چې هغه خوراک لپاره هېڅ نه درلودل.

دا دنيا يو باغ دی او الله جل جلاله ددې پاچا دی مونږ او تاسو ته يې اختيار راکړی دی چې خپل جوالونه له څه ډکوو؟ کله چې مړه شو او په قبرونو کې بنديان شو خواړه، اوبه او خپل خپلوان راباندې بند شي نو بيا به څه کوو؟ قصه چې خلاصه شوه د ماسپښين د لمانځه وخت و، لمونځ يې وکړ او د يا الله په ويلو سره يې سوړ اسويلي وکړ او راته يې وويل: ستا ډېره ډېره مننه زه اوس ارام هوسا او مطمئن يم او وعده کوم چې نور به دا کار نه کوم.

د نسيم سالارزي خندوونکی منطق!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... حکمتيارصاحب د حزب اسلامي د تګ لارې ترمنځ څرګند فرق دی، په کابل کې راجستر شوي حزب اسلامي په هېواد کې دننه د خپل ولس په ملاتړ د سياسي فعاليتونو له لارې په خپل ګران هېواد کې د مثبت بدلون د راوستلو فعاليت کوي، چې الحمدالله د ليدو او حساب وړ لاسته راوړنې هم لري، خو نسيم سالارزی د حزب اسلامي له سياسي فعاليت نه په ويره کې دی او غواړي چې پخپلو اوتو بوتو سره يې مخه ونيسي، په داسې حال کې چې په ولس کې د حزب اسلامي مقبوليت له بل هر ګوند نه زيات او ريښې يې دومره غځيدلي چې د افغانستان لويشت لويشت خاوره يې د شنو کبلو په څېر سمسوره کړې ده، چې ښکاره ثبوت يې په پارلمان او ولايتي شوراګانو کې د حزب اسلامي د وکيلانو اکثريت او د هېواد په ديرشو ولايتونو کې ددغه ګوند د دفترونو فعال شتون په همدې واقعيت ستر دليل دی.

دا چې سالارزی صاحب په افغانستان کې دننه په سياسي فعاليتونو بوخت حزب اسلامي يې د ارګ له منځه په خوړلو تورن کړی دا نو دهغه د زړه د حسد هغه سره لمبه ده چې مطبوعاتو ته هم رسيدلی، خو په دې خبره هر څوک ښه پوهېږي چې ارګ د هېواد د ولسمشر د اوسېدو ځای دی نه د خوراکي توکو پلورنځی.

حزب اسلامي په افغانستان کې تر ټولو لوی پراخ نفوس لرونکی حزب دی، ډېری غړي يې د خپل قانوني حق له مخې ددولت پر لوړو او ټيټو څوکيو دندې اجرا کوي نو ځکه د نورو افغانانو په څېر له بيت المال نه معاش ترلاسه کول دهغوی شرعي حق دی، که بيا هم د سالارزي په عقيده له بيت المال نه معاش اخيستل او په دولت کې کار کول جرم وي نو بيا پخپله د خپلې هغې دندې په اړه څه فتوا ورکوي چې په معارف وزارت کې ترسره کوي او معاش اخلي؟ همداراز په حکومت کې دهغو نورو سياسي ګوندونو په دندو ولې خوله ګنډلې چې د دولت زياتې څوکی يې اشغال کړې دي او ډالري معاشونه اخلي؟! که هغوی لپاره حلال وي نو بيا د حزب اسلامی هغو ورونو ته چې په دولت کې د خپل خدمت په بدل کې حلال معاش ترلاسه کوي ولې وينه زوه کيني؟ لعنت دې وي په داسې انصاف چې سالارزی يې کوي، له يوه دوه وزارتونو پرته، نه خو ټول وزارتونه له حزب اسلامي سره دي او نه هم ټول معينتونه او نورې لوړی څوکی، نه جمهور رئيس د حزب اسلامي له ګوند څخه دی او نه يې معاونين.

حزب اسلامي يواځنی ګوند دی چې تراوسه پورې د سولې، اتفاق او ملي يووالي لپاره تر بل هر چا زياتې هلې ځلې کړي او له ټولو سياسي ګوندونو سره د يو آزاد، مستحکم او پرمختللي افغانستان لپاره نژدې اړيکی لري او تفاهم ورسره کوي، نه يې حکومتي ځمکې غصبې کړي او نه هم دچا شخصي ځمکې، نه چېرته شهرک لري او نه هم شخصي دفتر بلکې تراوسه په کرايي دفترونو کې خپلې چارې پرمخ بيايي، ايله په اونۍ کې يو وار د شهادت په نوم ساده اوونيزه اخبار چلوي، مګر ددې برعکس ډېر داسې بې هويته او خائنې ډلګی شته چې هره ورځ رنګين ورځپاڼې چې خپلمنځي جګړو او نورو تخريبي اعمالو ته له ودې ورکولو پرته بل کوم تعميري او اصلاحي ښه نه لري بازار ته راوباسي، له همدې ځايه اصل واقعيت په ګوته کېږي چې څوک له کوم ځايه خوري او د چا په سرمايه ورځپاڼې او نورې نشريې خپروي.

سالارزي اصلاً په دې خفه دی چې د حزب اسلامي خلک ولې په نظام کې شريک دي، ولې په سياسي بهير کې د شامليدو پرځای جنګ ته ملا نه ده تړلې، ولې په افغانستان کې د سولې او ثبات د راوستلو لپاره ګرندې او فعال کارونه کوي، ولې د اسلام او اسلامي فرهنګ د ودې او يو موټي افغانستان لپاره کار کوي؟ که نه نو د حزب اسلامي د سياسي او سوله ييز فعاليت سره مخالفت څه معنا لري؟ که څوک غره ته خيژي دهغوی د زغملو توان هم نه لري او که څوک د سولې په فضاً کې د سياسي فعاليت لاره خپلوي دهغوی د زغملو توان هم نه لري، داسې خو نشي کيدلې چې د لکونو شهيدانو په وينه د ګټل شوي هېواد سرنوشت دې يو څو خرڅ شويو احمقانو ته وسپارل شي. او حزب اسلامي دې په چوپه خوله دې دهغوی د خيانتونو ننداره وکړي، نه! هرګز نه! حزب اسلامي به د لکونو شهيدانو په وينه دا ګټل شوي هېواد کله هم وطن پلورونکو ګيدړانو ته پرې نږدي او د قيامت تر ورځې به د خپلې خاورې او عقيدې له خدمت څخه لاس په سر نشي.

د انتخاباتو کميسون د رای ...

هماغه اندازه د هوا د تودېدو له کبله نا امنۍ زياتېږي او په ډېرو کلبوالي سيمو کې د نوم ليکنې امکان له منځه ځي.

د انتخاباتو خپلواک کميسون د دارالانشا رييس ضيا الحق امرخېل ويلي: "د کميسون له خوا به دا پرېکړه به د رای ورکوونکو په کارتونو کې د نويو امنيتي ځانګړتياوو ځای په ځای کولو ته وخت ورکړي، دا کارتونه به د نوماندانو د نوم ليکنې او ټاکنې د ورځې په څېر وروستيو ټاکنيزو فعاليتونو پر زماني جوکاټ کوم اغيز و نه کړي."

د انتخاباتو کميسون اټکل کوي چې شاوخوا څلورو مليونو افغانانو ته به نوي کارتونه وويشي.

مخکې يو شمېر ګوندونو ټينګار کاوه چې د انتخاباتي کارتونو پر ځای دې نوي اليکټرونيکي تذکرې وويشل شي خو د درغليو احتمال لږ شي خو د کورنيو چارو وزارت وايي چې په دومره لنډه موده کې اليکټرونيکي تذکرې نه شي ويشلی.

د انتخاباتو خپلواک کميسون هم په يوه خبرپاڼه کې دې مسلې ته په اشارې ويلي: "دا پرېکړه (ځنډ) به د ټاکنو خپلواک کميسون ته د دې وخت ورکړي چې د برېښنايي تذکرې له بهير سره د همغاړيتوب د زياتوني په موخه له کورنيو چارو وزارت سره همغږي وکړي او برېښنايي تذکره به هم د رای اچونې لپاره د منلو وړ سند ګڼل کيږي."

د انتخاباتو خپلواک کميسون وايي چې نوي کارتونه به هغو کسانو ته ورکول کيږي چې د ۱۳۹۳ ل کال د حمل تر شپاړسمې پورې اتلس کلن شوي، همداراز هغو افغانانو ته چې په وروستيو کې خپل هيواد ته ستانه شوي يا هغو کسانو ته چې له يوې انتخاباتي حوزې بلې ته کډه شوي وي.

د کميسون په وينا هغو کسانو ته به هم نوي کارتونه ورکړای شي چې پخواني کارتونه ورڅخه ورک شوي يا خراب شوي وي. همداراز يو شمېر داسې کسان هم شته چې پخوا هم د رای ورکولو په شرايطو برابر ول خو کارتونه يې نه وو اخيستي، که چېرې هغوی وغواړي د انتخاباتو خپلواک کميسون حاضر دی چې کارتونه ورکړي.

روسيه او هند د افغانستان ...

"يوري اوشاکوف" جنوبي افريقا ته د روسيې د ولسمشرله رواتېدو مخکې په مسکو کې په يوې خبري غونډه کې وويل چې؛ پوتين به د بريکس د سرمشريزې په حاشيه کې چې د "دوربان" په ښارکې جوړيږي؛ د هند له صدراعظم من موهن سنګ سره وګوري او د دوه اړخيز اړيکو د پياوړي کېدو پرلارو چارو او دغه راز د افغانستان پراوسنې وضعيت خبرې وکړي.

د اوشاکوف په وينا، د افغانستان مساله اوس ځکه مهمه ده چې؛ ټاکل شوې ده، د ۲۰۱۴ م کال ترپايه له دې هيواده بهرني ځواکونه ووځي.

روسيه له دې اندېښمنه ده چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو په وتلوسره به افراطيت او بنسټ پالنه د منځنۍ اسيا هيوادونو ته وغزيږي. هند هم اندېښمن دی که طالبان چې پاکستان يې ملاتړی بولي، د افغانستان په سياسي نظام کې شامل شي، د اسلام اباد لاس به برشي.

دغه راز ويل شوي چې، پوتين او سينګ به د دواړو هيوادونو ترمنځ د ستراتيژيکو استثنايي اړيکو په رڼاکې په دې خبرې وکړي چې؛ څنګه دغه اړيکې لا پراخيدای شي.

د دواړو مشرانو د خبرو په اجنډا کې د سوريې کړکيچ هم شامل دی.

د انټرفاکس خبري اژانس د راپور له مخې روسيې او هند د ملګروملتونو په امنيت شورا، جي شل، بريکس، شانګهای او يوشمېر نورو ډلو او سازمانونو کې د نړيوالو مسايلو په اړه د يوه ګډ دريځ د غوره کولو لپاره په خپلو کې همکاري زياته کړې او مسايل يې ډېرسره تنظيم کړي دي.

د روسيې او هند ترمنځ د سوداګری راکړه ورکړه په تير ۲۰۱۲ م کال کې يولس ميليارډ ډالرو ته رسيده چې؛ مخکې يې ساری نه دی ليدل شوی.

د کريملين په وينا، دواړه هيوادونه د انرژۍ د سکتور په تيره بيا د اټمي انرژۍ او ځينو نورو لکه فولادو او نورو فلزاتو په برخو کې ګډې پروژې پرمخ وړي.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

په خلورو ورځو کې د بگرام زندانيان افغان لوري ته سپارل کېږي

ډيلي ټيليګراف ورځپاڼې د افغانستان حکومت ته د بگرام د زندان د مسووليت د سپارل کيدو په ارتباط مقاله خپره کړې، چې په پيل کې يې راغلي:

"پنتاګون د شنبې په ورځ اعلان وکړ، چې افغان حکومت ته په بگرام کې زندانيانو د وروستي ډلې د مسوليت سپارل کيدو پر سر موافقه وشوه."

د بگرام د زندانيانو مسوليت هغه مساله وه، چې د واشنګټن او جمهور رييس حامد کرزي ترمنځ يې لانجې پيدا کړې وې.

د بگرام زندان د سپارل کيدو دا مراسم، چې بايد دوې اونۍ مخکې ترسره شوي واى؛ تر هغه وروسته وځنډيدل، چې جمهور رييس حامد کرزي د موافقتامې ځينې برخې رد کړې.

د ډيلي ټيليګراف په ليکنه، په بگرام کې د دې زندان کنټرول، چې د امريکا د پوځي تاسيساتو په څنګ کې پروت دی؛ تر اوسه د امريکايي ځواکونو په لاس کې و او امريکايي مقاماتو ويلي وو، چې په دې زندان کې لس هاوو خطرناک بنديان ساتل کيدل.

د امريکا او افغانستان ترمنځ د موافقه ليک له مخې، ټول هغه افغانان، چې امريکايي او ايتلافي ځواکونو نيولي دي، بايد په څلورو ورځو کې افغان حکومت ته وسپارل شي.

ورځپاڼه د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت د وياند جانان موسى زي په حواله وايي؛ چې د دې زندانيانو د خوشې کېدو پريکړه به تر دې وروسته د افغانستان حکومت کوي.

د فارن پاليسي خبروڼې په افغانستان کې د ملکي امريکايي ماموراتو د فعاليت په ارتباط مقاله خپره کړې ده.

د فارن پاليسي په وينا، هغه ملکي امريکاييان به، چې په وروستيو کې افغانستان ته تللي دي؛ تر ټولو مخکې له دې هيواده ايستل کيږي.

له افغانستانه د دوی وتل په دې معنی ده، چې دا يوازې پنتاګون يا د امريکا د دفاع وزارت نه دی، چې خپل پوځي پرسونل له دې هيواده باسي. بلکې د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت مرستدويه اداره "يو. ايس ايډ" د امريکا د ماليې وزارت او د "ايف. بي. اي" اداره هم خپل فعاليتونه پای ته رسوي او خپل کارکوونکي بيرته امريکا ته ستنوي.

فارن پاليسي خپرونه زياتوي، چې افغانستان ته د اضافي ملکي ماموريتو استول ټل يوه جنجالي مساله وه. د دې کسانو جلب و جذب گران کار وو او د هغوی د کار د پايلو ارزيابي کول هم له ستونزو ډک وو.

په هر حال، د ملکي ماموريتو له ستيدو سره به دا مساله هم حل شي.

د فارن پاليسي خپرونه ليکي، چې د افغانستان په ځينې برخو کې د ملکي ماموريتو د ستنولو پروسه د پوځي ماموريتو د ستنولو په پرتله ډيره چټکه ده.

فارن پاليسي وايي، چې له افغانستانه د ملکي ماموريتو د ستنيدو د پروسې چټکوالى دا نظر لا پياوړي کوي؛ چې له افغانستان سره د امريکا د مرستې تعهدات د کمزوري کيدو په حال کې دي.

د خبروڼې په ليکنه، په ۲۰۱۴ کال کې به افغانستان کې انتخابات کيږي، د امريکا د ملکي ماموريتو د بيرته ستنيدو مسله دا ستونزه پيدا کوي، چې ښايي هغو ملکي ماموريتو ته اړتيا پيداشي، چې د انتخاباتو د پروسې لپاره مهم گڼل کيږي.

يوه امريکايي چارواکي فارن پاليسي خبروڼې ته ويلي؛ چې تر اوسه دا نه شي ويل کيدلای؛ چې د امريکا د ملکي ماموريتو وتل به د عادي افغانانو پر ژوند څه اغيز ولري.

خو د دې امريکايي چارواکي په وينا، هغه څه، چې همدا اوس څرگنديږي دا ده، چې د امريکا د ملکي ادارو د ماموريتو وتلو د هغو کسانو لپاره شرايط سخت کړي، چې غواړي په افغانستان کې کار ته دوام ورکړي.

استراليا ارزگان کې خپله مهمه پوځي اډه تړي

"دغه پريکړه د استراليا حکومت په غوښتنه کيږي، چې په وينا يې له اصلي مهالويش نه يو کال وړاندې د ۲۰۱۴ کال په پای کې خپل ځواکونه له افغانستان باسي."

کابل، رسنۍ:

استراليا اعلان کړی هغه مهمه پوځي اډه چې ځواکونو يې کاروله د دې کال په وروستيو کې تړي او ډيری ځواکونه به يې بيرته کورته ستانه شي. د استراليا د دفاع وزير ستيفن سمېت وويل ايساف پريکړه کړې چې د ارزگان په ترينکوټ کې دغه پوځي اډه تړي او په دغه هيواد کې خپل ماموريت پای ته رسوي.

دغه پريکړه د استراليا حکومت په غوښتنه کيږي، چې په وينا يې له اصلي مهالويش نه يو کال وړاندې د ۲۰۱۳ کال په پای کې خپل ځواکونه له افغانستان باسي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړيو کې استراليا وويل، چې سږ کال به له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ايستلو لړۍ پيل کړي او د ۲۰۱۳ کال په پای کې به خپل ټول سرتيري له افغانستانه وباسي.

استراليا به افغانستان کې نژدې ۱۵۵۰ پوځيان لري، چې ډيری يې په اروزگان ولايت کې ميشت دي.

د استراليا لومړۍ وزيرې جوليا گيلارډ هغه مهال دغه اعلان د افغانستان په تړوا د ناټو له هغه کنفرانس نه يومياشت وړاندې وکړ، چې د امريکا په شيکاگو کې جوړ شو.

د دغه اعلان مانا داوه، چې استراليا له ټاکلي مودې چې ۲۰۱۴ کال ټاکل شوی، يو کال وړاندې خپل ځواکونه له افغانستان وباسي.

خو اغلې گيلارډ هغه مهال وويل افغان ځواکونه به په زغرده د امنيتي مسؤوليتونو بيتې ته چمتو شي.

اغلې گېلارډ د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې هم د خپل هيواد پارلمان ته په وينا کې ويلي وو چې "افغانستان کې ښه حکومت ولې د راتلونکي نسل اصلي غوښتنه ده، د افغان حکومت او خلکو دنده هم دا ده چې ښه حکومت ولې رامنځ ته شي."

د استراليا لومړۍ وزيرې ويلي وو چې کيدای شي تر ۲۰۱۴ کال وروسته هم افغانستان کې استراليايي پوځيان پاتې شي.

وزير خارجهء امريکا بر شفافيت ...

...پيش از آنکه اين نشست سری شود نقش اعضای شورای ملی و نهاد های جامعه مدنی افغانستان را در برگزاری بهتر اين انتخابات برجسته خواند.

آقای کری افزود که مردم امريکا از تلاش های افغان ها جهت پيشرفت و ترقی کشور شان حمايت می کند.

"من خصوصاً به اعضای پارلمان که اين جا حضور دارند و اعضای جامعه مدنی که برای برگزاری بهتر انتخابات سعی دارند می گويم که شما سرگرم تلاش های قابل ملاحظه هستيد و جهان شما را نظاره می کند. طوريکه می دانيد ما پس از حوادث مصيبت بار در امريکا به اين جا آمديم و بدبختانه قبل از آن شماری از افراد از کشور تان به عنوان پناه گاه برای انجام اعمال تروريستی استفاده می کردند."

در اين نشست انجنير رحمت الله نبيل معاون شورای امنيت ملی افغانستان، داکتر فاروق وردک وزير معارف، ضيا الحق امر خيل رييس دارالانشای کميسيون مستقل انتخابات، ميرويس ياسينی معاون اول ولسی جرگه، محمد يونس قانونی عضو اين جرگه که در عين حال عضويت هيات شورای رهبری ايتلاف ملی راهم دارد، شکريه بارکزی عضو ديگر ولسی جرگه و نادر نادری رييس بنياد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان اشتراک داشتند.

در همين حال برخی از اين افراد در صحبت با راديو آزادی گفتند که آنها مساله آماده گی های لازم برای راه اندازی انتخابات آينده رياست جمهوری در افغانستان و هم چنان مشکلات امنيتی فرا راه اين انتخابات را مطرح کردند.

نادر نادری رييس بنياد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان که در اين نشست حضور داشت می گويد که اين مقام بلند پايه امريکايی اطمينان داد که کشورش از تمام پروسه های ديموکراتيک در افغانستان حمايت می کند.

"در جلسه امروز تنها بحث امنيت به عنوان يکی از نگرانی ها که مرتبط است با جامعه جهانی من و ديگران مطرح کرديم و در مجموع چگونگی مداخله همسايه ها در پروسه انتخابات و يا مسايل امنيتی در جريان انتخابات نيز از جانب ما مطرح گرديد. وی وعده کرد که حمايت های امريکا و جامعه جهانی از افغانستان در تمام عرصه ها ادامه پيدا می کند و انتخابات برايشان از مسايل عمده است که بی طرف باقی می مانند اما از پروسه ديموکراتيک در افغانستان حمايت می کنند."

جان کری وزير خارجه ايالات متحده با شماری از زنان تجارت پيشه افغان هم در مقر سفارت امريکا در کابل ديدار کرد و با آنها در مورد کار و فعاليت شان صحبت نمود.

به گفته بعضی منابع موثق، آقای کری صبح روز سه شنبه برای بار دوم با رييس جمهور کرزی نيز ملاقات کرد و پس از ظهر همين روز افغانستان را ترک نمود.

هشت مهاجم و پنج پوليس ...

پوليس از پا درآورده شدند.

پاسوال محمد شريف امين قوماندان امنية ننگرهار، بعد از حادثه در يک کنفرانس خبری گفت که تعداد مهاجمين هشت تن بود.

به گفتهٔ وی، اين حمله توسط يک موتری که در آن سه فرد انتحارکننده سوار بود، صورت گرفت و بعداً درگيری مسلحانه آغاز گرديد.

شريف امين گفت که حملهٔ انتحاری دوم، توسط موتر بعداً صورت گرفت و درگيری بين پنج مهاجم ديگر و پوليس آغاز شد.

قوماندان امنيه علاوه کرد که پنج تن از مهاجمين نيز طی درگيری با پوليس کشته شدند و جلو يک حادثهٔ بزرگ، به اثر شجاعت پوليس گرفته شد.

موصوف افزود که در اين درگيری، هشت مهاجم و پنج پوليس کشته شده و چهار تن ديگر جراحت برداشته اند.

يک داکتر شفاخانه ملکی جلال آباد که از گرفتن نامش خودداری کرد، به پژواک گفت که شش پوليس و هفت فرد ملکی، در حالت زخمی به شفاخانه آورده شده اند.

منبع وضعيت صحی مجروحين را قابل اطمينان خواند.

در مقابل قوماندانی قطعه واکنش سريع، قوماندانی امنيه ننگرهار نيز موقعيت دارد.

يک پوليس قوماندانی امنيه که در زمان حمله در مقابل ساختمان چوکيداری داشت، به پژواک گفت که ناگهان يک موتر آمد و در مقابل ساختمان قوماندانی واکنش سريع منفجر شد.

وی افزود: "دو تن در پهلوی قوماندانی در مقابل يک مارکيت چهارمنزله ايستاد بودند و بری مه گفتند که دروازهٔ مارکيته بازکن که در اين انفجار زخمی شده ايم؛ اما مه که متوجه شدم آنها اسلحهٔ خوده زير چادر خود پنهان کرده بودند، سر شان فير کدم و هردو را کشتم."

اين پوليس افزود که آنها نيز مهاجمين بودند و می خواستند قوماندانی امنيه و قوماندانی واکنش سريع را از منزل چهارم مارکيت هدف قرار دهند.

در اطراف قوماندانی واکنش سريع پوليس، دفاتر و منازل رهايشی زياد نيز قرار دارد.

حکمت الله يکتن از باشندگان محل به پژواک گفت که ساعت ۴:۳۰ صبح، انفجار قوی رُخ داد و بعد از آن صدای فيرها را نيز شنيدند.

وی افزود که در ساحه درگيری شديد جريان دارد و صداهای انفجارات مهيب و فيرهای سلاح ثقيله نيز شنيده شده است.

مسووليت اين حملهء تهاجمی را طالبان مسلح بر عهده گرفته اند؛ ذبيح الله مجاهد يکتن ازسخنگويان طالبان می گويد که در اين حمله، ده ها تن از سربازان داخلی و خارجی کشته شده اند.

موصوف پذيرفت که در اين حمله، پنج تن از مهاجمين طالب نيز به قتل رسيده اند.

در وقت توزيع تذکره های ...

نهاد های دخيل در کار توزيع تذکره جديد خواسته اند تا در هنگام آغاز اين برنامه از احتياط لازم کار گيرند.

به باور اين سناتوران اگر در کار توزيع تذکره های جديد بی توجهی صورت گيرد، شماری زياد از باشندگان کشور های همسايه از موقوع استفاده کرده تابعيت افغانستان را بدست خواهند آورد.

هدايت الله رهايی يکتن از اين سناتوران گفت:

"زمانی که تذکره های الکترونيکی توزيع می شود بی توجهی صورت نگيرد که صد ها پاکستانی و پنجابی بيايد و تذکره الکترونيکی از افغانستان بگيرند، در گذشته چنين حالات صورت گرفته در افغانستان که تعداد از پاکستانی ها تذکره افغانی را بدست آورده اند، که اين يک کار خطرناک است."

قرار بود روند توزيع تذکره های الکترونيک بتاريخ سوم حمل سال ۱۳۹۲ آغاز گردد، اما به گفته معين اداری وزارت امور داخله نظر به دلايل تخنيکی اين روند به تعويق افتاده است.

در همين حال برخی ديگر از سناتوران خواهان حذف مساله مليت و قوميت از تذکره های الکترونيکی شدند.

بلقيس روشن يکتن از اين سناتوران گفت، نوشتن قوم و مليت در تذکره های الکترونيک در حقيقت مسايل قومی را در فغانستان دامن می زند و بايد اين مساله حذف شود.

"ما در بايو متريک رفتيم برای ما می گفتند که بگويد، از کدام مليت هستيد اين مساله شرم آور است بناً ما اين مساله را محکوم می نمايم، که هر فردی که می گويد، مساله مليت را در تذکره نوشته کند، او يک افغان نيست، او يک نماينده يک کشور خارجی است."

پس از بحث های طولانی هيات اداری مشرانو جرگه فيصله نمود تا مقام های وزارت امور داخله جهت ارايه معلومات و رفع نگرانی مشرانو جرگه دو هفته بعد به مشرانو جرگه بيايند.

تلاش نموديم تا اين مساله را با مقام های وزارت امور داخله، در ميان بگذاريم اما آنان حاضر به تبصره در اين مورد نشدند.

خروج تجهيزات نظامی امريکا ...

و در انتظار بازگشت به محل "دپو" در خاک امريکا می شوند.

سی.ان.ان گزارش داد: ۶۰ فيصد از ده ها هزار موتر نظامی امريکايی در افغانستان از طريق راه زمينی و از خاک پاکستان و بندر کراچی خارج خواهند شد.

بر اساس اين خبر ۴۰ فيصد باقی مانده تجهيزات لوجستيکی نيز به مناطقی از شرق ميانه همچون بندر دوبی و يا به کشور اردن برای بازگرداندن به امريکا منتقل خواهند شد.

شهادت اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (خليل)

د اړيکو شميرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• راليږل شوي مطالب نه سترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب نظر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com